مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۰مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۱مه | دویم کال| ۲۹۸مه ګڼه

# د عمر داودزي له ټاکل کېدو وروسته د سولې شورا مشر کریم خلیلي استعفا کوي


۳

ولې ځینې سیاستوال حکومتي دندې اخلي؟
۲ مخ

د افغان سولې نوې هڅې او احتمالي اندېښنې
۲ مخ

پارلماني ټاکنې څه ډول ترسره شوې، ستونزې چېرې دي او حل څه دی؟
۳ مخ

## د کانونو په تړاو د مک تازه موندنې؛ حکومتي چارواکي د کانونو په ناقانونه استخراج کې دخیل دي

د فساد پرضد د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ادارې یا مک د یوه تازه راپور موندنې ښیي چې د هېواد د طبیعي منابعو په تړاو کافي معلومات وجود نه لري او ځینې چارواکي د معادنو په استخراج کې دخیل دي.

دا اداره وايي، د افغانستان په مختلفو ولایتونو په تېره بیا ننګرهار کې چارواکي د معادنو عواید را غونډوي او یا یې هم په غیرقانوني استخراج کې لاس لري.

د دغه راپور پر اساس د کانونو وزارت تر څلوېښت سلنه کم کارکوونکي لوړې زده کړې نه لري او د دغه وزارت د ۲۱۱٦ کارکوونکو له جملې ۱۹۰ هغه د حرفوي زده کړو له ښوونځیو فارغ، ۵۱٦ لېسانس او له سلو کم یې ماسټري لري.

په دې څېړنه کې راغلي چې په دغه وزارت کې ګومارنې تر ډېره جنجالي دي او له همدې امله ۵۸۸ خالي بستونه لري.

په ورته مهال په دغه وزارت کې د معادنو د تفتیش بهیر کمزوری ښودل شوی او د موجودو مفتشانو په تړاو چې شمېر یې ۹ تنه دی، هم شکایتونه موجود دي.

په کانونو او پټرولیم وزارت کې د قراردادونو په برخه کې د ظرفیت نشتوالی چې تل د روڼتیا ادارې له لوري هم پرې نیوکې شوې، له هغو مهمو عواملو څخه یادېږي چې تر اوسه په هېواد کې یو کان هم په سمه توګه نه دی کېندل شوی چې د لوګر د مسو او د امو سیند د تېلو کان یې له مهمو بېلګو یادېږي.

## د سولې خبرو لپاره ولسمشریزې ټاکنې نه ځنډېږي


۲ مخ

## خبره

۴ مخ




## اکبر رستمي: د خوش‌تپې کانال د جوړېدو هوکړه لیک لاسلیک شو



د کرنې او مالدارۍ وزارت او د امریکا پراختیایي ادارې ترمنځ د خوش‌تپې کانال د جوړېدو هوکړه وشوه.

د کرنې او مالدارۍ وزارت ویاند اکبر رستمي وویل، د دغه ستر کانال هوکړه لیک په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د ولسمشر غني، اجرایه رییس او د ځینو نړیوالو ادارو د استازو په حضور کې لاسلیک شوه.

د یاد وزارت د ویاند په وینا، دغه کانال ۲۸۰ کیلومتره اوږدوالی لري چې لومړی فاز به یې په ۱۲ میاشتو کې د ۳،٦ میلیونو ډالرو په لګښت بشپړ شي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، د خوش‌تپې ستر کانال له جوړېدو سره به د کندوز، بلخ او تخار ولایتونو ۲،۵ میلیونه جرېبه کرنیزه ځمکه خړوبه شي.

رستمي زیاتوي، په دې سره به د ځمکو حاصلات زیات او د بزګرانو په اقتصاد کې هم د پام وړ بدلون راشي.

## صندوق بین المللی پول از اصلاحات مالی و اقتصادی افغانستان استقبال کرد



وزارت مالیه میگوید که صندوق بین المللی پول، چهارمین دور اصلاحات مالی و اقتصادی افغانستان را موفقانه ارزیابی نموده است.

محمد همایون قیومی سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربنا، و خلیل صدیق رییس عمومی د افغانستان بانک، دیروز نتایج چهارمین دور ارزیابی صندوق بین المللی پول از اصلاحات مالی و اقتصادی حکومت را طی کنفرانس مطبوعاتی مشترک در مرکز رسانه های حکومت، به رسانه ها اعلام نمودند.

همایون قیومی ضمن استقبال از تمدید فعالیت های این صندوق در کشور گفت که بورد اجرائیوی صندوق بین المللی پول (IMF) بعد از ارزیابی تعهدات حکومت افغانستان، چهارمین دور اصلاحات مالی و اقتصادی افغانستان را موفقانه ارزیابی نموده و فعالیت های این صندوق را در کشور الی آخر سال مالی ۱۳۹۸ تمدید نموده است.

وی افزود: «بسیار خرسند هستم که افغانستان علیرغم چالش های خشکسالی و مشکلات امنیتی توانسته است که برنامه های اصلاحی و تعهدات خوی شرا مؤفقانه تطبیق نماید».

او همچنان گفت که با تکمیل مؤفقانه هر دوره، افغانستان می تواند که مبلغ ٦.۲ میلیون دالر امریکایی بیشتر از سوی صندوق متذکره به دست بیاورد. افغانستان بعد از تکمیل چهار دور ارزیابی، تا فعلاً توانسته است که مبلغ ۲۴.۸ میلیون دالر را به دست بیاورد.

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریځ

### ولې ځینې سیاستوال حکومتي دندې اخلي؟

د حکومت یو منتقد او د حراست او ثبات شورا د سیاسي برخې مشر عمر داودزي د ملي یووالي حکومت په وروستیو کې حکومتي دنده اخیستې ده. نوموړی د سولې عالي شورا د دارالانشاء رییس او د سولې د اجماع لپاره په سیمه ییزو چارو کې د ولسمشر ځانګړی استازی ټاکل شوی دی. ویل کېږي چې رحمت الله نبیل ته د ملي دفاع وزارت او ځینو نورو سیاستوالو ته هم چې له حکومته بهر فعال دي، د حکومتي څوکیو وړاندیزونه شوي دي.

ډېری کسان فکر کوي چې حکومت دا کار د راتلونکو ټاکنو په موخه کوي، خو اصلي لوبه بل څه ده. حکومت ته ور ګډېدونکي کسان پوهېږي چې د دغه حکومت کمه موده پاتې ده او که ټاکنې کېږي، نو اشرف غني د بیا ګټلو کم چانس لري. له دې سره سره بیا هم حکومتي دنده اخلي. دلته اصلي بحث د موقت حکومت دی. ولسمشر غني به ښایي د ټاکنو لپاره دا ګامونه اخلي، خو اصلي هڅه یې دا ده چې د حکومت د مخالفو سیاستوال پر ور ګډولو سره هڅه کوي، څو د راتلونکي ممکنه موقت حکومت مشری ته هم ځان تیار کړي. حکومت ته ور ګډېدونکي کسان هم فکر کوي چې که بهر پاتې کېږي او ټاکنو ته انتظار کوي، نو ښایي همداسې بهر پاتې شي او ټاکنې ونه شي. اوس په سیاسي کړیو کې دا بحث ګرم دی چې ښایي ټاکنې ونه شي او موقت حکومت جوړ شي. همدې چارې د عمر داودزي په شان د سیاستوالو، چې ان ولسمشرۍ ته د کاندیدۍ خبرې یې کولې، پښې سستې کړې دي او غواړي حکومت ته ننوځي، څو په راتلونکې موقت حکومت کې هم ځای ولري. عمر داودزي نوې دنده ځکه قبوله کړې چې کار یې په سوله پورې اړوندېږي او سوله هغه لاره ده چې که وشي، په دې برخه کې فعال کسان به کرېډېټ اخلي او په راتلونکي حکومت کې یې د پاتې کېدو شونتیا زیاتېږي.

دا چې ټاکنې په رښتیا ځنډېږي او موقت حکومت جوړېږي، که نه، جلا بحث دی، خو له وروستیو بدلونونو ښکاري چې ځینو سیاستوالو ته ښایي له سفارتونو دا پیغامونه رسېدلي وي چې پر ټاکنو د تمرکز پر ځای ښه ده چې په موقت حکومت کې ځان ته ځای پیدا کړي او ان اوس حکومت ته ننوځي، څو په راتلونکي کې ونډه ولري. که له ځینو سرچینو قوي پیغامونه نه وي، د عمر داودزي په شان د حکومت مخالفینو ته به سخته وي چې د حکومت په دې وروستیو کې سترګې خړې کړي او پر حکومت ور ننوځي. له بله اړخه لکه څنګه چې مو یادونه وکړه ولسمشر د مخالفو سیاستوالو په حکومتي کولو سره په دوو اړخونو کې د ګټې تمه لري. که ټاکنې کېږي، تمه لري چې دا کسان به ورسره مرسته وکړي او ځان به بیا د پنځو کلونو لپاره ولسمشر کړي. که ټاکنې نه کېږي، نو حکومت ته د بېلابېلو ډلو او کړیو د سیاستوالو په راوستلو سره ښيي چې هغه د مخالفینو د یو ځای کولو وړتیا لري او په دې ډول کولی شي د موقت حکومت مشري هم وکړي.

که موقت حکومت جوړېږي او هدف یې د سولې په چاره کې مرسته وي، نو داسې نه ښکاري چې په هغه حکومت که به ولسمشر غني او د عمر داودزي په شان سیاستوال ځای ولري. که خبره د معاملو، کمپاینونو او پټو شخصي جوړجاړیو وي، نو بیا شونتیا شته چې یو ځل بیا دې پر افغانستان د ملي یووالي حکومت په شان یو عذاب واکمن شي.

# د افغان سولې نوې هڅې او احتمالي اندېښنې

لیکنه: ذاکر جلالي

د ډونالډ ټرمپ اداره پر افغانستان د امریکا د جګړې درېیمه هغه ده چې دغه پېټې ته اوږه ورکوي. خو ټرمپ د تېرو دوو ولسمشرانو پرخلاف له یوې غیرسیاسي او د سوداګرۍ له مخینې سره د سیاست پېچلې دنیا ته راغلی. پر دې اساس د ټرمپ او تېرو ادارو سیاسي لومړیتوبونه د پام وړ توپیرونه لري. د ټرمپ تر ټولو ښه ځانګړنه به دا وي چې د پېچلیو سیاسي او پوځي سیالیو پر ځای پر سوداګرۍ او راکړه ورکړه باور لري. که په افغانستان کې د امریکا جګړې او پوځي حضور ته له دې زاویې وګورو؛ نو د ټرمپ له راتګ سره دا هیلې پنځېدلې چې امریکا د افغانستان د بې‌مفهومه جګړې دوام ته ډېره لېواله نه ده. د ده نظر سیاست ته یوازې د اقتصادي ګټې او تاوان له زاویې دی. د افغانستان جګړه بیا امریکا ته نه یوازې دا چې عاید نه لري، بلکې لګښت لا غواړي؛ ځکه ټرمپ ته دغه جګړه په زړه پورې نه برېښي او پر دې فکر کوي چې څنګه دا ربړه هواره کړي.

**هیلې**

پر دې اساس واک ته د ټرمپ رسېدل د افغان سولې په تړاو هیلې زیاتې کړې. دا هیلې هغه مهال لاپسې زیاتې شوې چې د امریکا حکومت سپټمبر کې خپل پخوانی افغاني‌الاصله ډیپلومات، زلمی خلیلزاد د افغان سولې لپاره خپل استازی وټاکه. خلیلزاد له خپلې ګومارنې سره سم د افغانستان، پاکستان او قطر په ګډون د سیمې هېوادونو ته د سفرونو لړۍ پیل کړه. دمګړۍ خلیلزاد پر خپل درېیم سفر وتلی چې د ډسمبر له ۲مې پیل شوی او د روانې میاشتې تر ۲۰م به دوام ولري. خلیلزاد په خپل دویم سفر کې د ملا فاضل او ملا خیرالله خیرخوا په ګډون د طالبانو له استازو سره درې ورځې خبرې وکړې. تمه ده چې خلیلزاد به د روان سفر په جریان کې هم له طالبانو سره وګوري.

له بلې خوا د خلیلزاد له ګومارنې وروسته طالبانو هم د ګوانتانامو پنځه تنه پخواني بندیان د قطر سیاسي دفتر د غړو په توګه وګومارل. ملا محمد فاضل مظلوم، ملا خیرالله خیرخوا، ملا نورالله نوري، ملا عبدالحق وثیق او مولوي محمد نبي عمري پنځه تنه هغه طالب مشران دي چې په پوځي برخه کې یې پخوا مهمې دندې ترسره کړې دي او اوس د دې ډلې د سیاسي استازولۍ برخه شول. د طالبانو په سیاسي دفتر کې د دغو پنځو تنو زیاتوني وښوده چې طالبان هم د خبرو نویو پړاوونو ته چمتووالی نیسي؛ ځکه د طالبانو په لیکو کې د دغو پنځو مشرانو مخینه ښيي چې سیاسي بهیر کې د دوی حضور دې پروسې ته لا اعتبار ورکوي.

**اندېښنې**

د خلیلزاد د هڅو او خبرو په دوام، ځینې لوړ پوړي امریکایي چارواکي ځینې داسې څرګندونې کوي چې ښایي د خبرو اترو بهیر زیانمن کړي. ټرمپ واشنګټن پوسټ سره په خبرو کې وویل: «کله چې له کارپوهانو د افغانستان د جګړې په اړه پوښتنه کوم، وایي که افغانستان کې جګړه ونه کړو، ښایي په کور دننه جګړه وکړو». د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ وویل، له افغانستانه د وتلو بیه هلته تر پاتې کېدو لوړه ده. تازه د امریکا د مرکزي قوماندانۍ مشر، جنرال جوزیف ډینفورډ هم په افغانستان کې د امریکا پر پوځي شتون ټینګار کړی. ډینفورډ ویلي، د امریکا حضور په افغانستان کې د القاعدې او داعش وړتیا کمزورې کړې او که امریکا په افغانستان کې نه وي، دغه ډلې به بیا خپل ظرفیتونه لوړ کړي او داسې پېښې به رامنځته کړي، لکه د سپټمبر ۱۱مه. تر ده وړاندې د دفاع وزیر جېمز مټیس ویلي وو چې د امریکایي پوځیانو د حضور او وتلو بحث به د سولې له خبرو وروسته مطرح کېږي. معنا دا چې د پوځیانو د حضور بحث د سولې خبرو کې نه دی شامل.

طالبانو هم د ورته څرګندونو او اندېښنو په غبرګون، په یوه اعلامیه کې د بهرنیو ځواکونو پر وتلو ټینګار کړی. طالبانو ویلي: «له افغانستان څخه د نورو هېوادونو لپاره د تهدید تصور هېڅ واقعیت نه لري، افغانانو نه د چا په ضرر ګام اخیستی، نه یې د نورو هېوادونو په مسائلو کې مداخله کړې او نه یې هم له دې وروسته اراده لري». طالبانو دغه اندېښنه «غلطه فرضیه» بللې او ویلي یې دي چې دغه تبلیغاتي جګړه د ۱۸ کلنې جګړې لامل شوه.

طالبانو پر خپله رسمي وېب پاڼه په یوه تبصره کې د امریکایانو پر وروستیو شپنیزو عملیاتو او چاپو بحث کړی او په پای کې یې ګواښ کړی چې ښایي له مقابل لوري سره د خبرو د کولو یا نه کولو په باب، له سره غور وکړي.

په تېرو څو ورځو کې د طالبانو او امریکایانو له لوري وروستیو دریځونو دا اندېښنې راولاړې کړې چې د سولې د نوو توکېدلو هیلو د مړاوي کېدو وېره یې پیدا کړې. په دې تړاو څو ټکي د پام وړ دي:

**لومړی-** امریکایان او طالبان تر اوسه د مذاکراتو پړاو ته نه دي داخل شوي. تر اوسه دواړې غاړې د «خبرو په اړه» خبرې کوي. دا پېچلې مرحله ده؛ ځکه چې پر اصلي موضوعاتو لا خبرو ته نه دي رسېدلي؛ نو طبعي ده چې د جګړې په ډګر کې به هر لوری د پخوا په څېر د لا زیات فشار د واردولو هڅه کوي. یوازې هغه وخت کولای شو چې د جګړې په ډګر کې د فشار د کمېدلو هیله وکړو چې خبرو کې پرمختګ وشي او یا هم اوربند ته ورسېږي.

**دویم-** د امریکا اداره د سولې د خبرو په تړاو وېشلې ده. لا هم د امریکا په اداره کې جنګ غوښتونکی لوری خپل مهم رول لري. بناً په دې مرحله کې هڅه باید دا وشي چې جګړه غوښتونکې ذهنیت لا منزوي شي او عملاً ثابته شي چې د افغانستان جګړه د امریکا د ولس ګټې نه ساتي او یوازې یوه بې‌مفهومه جګړه ده. تېره اونۍ واشنګټن پوسټ او فارین پالیسي داسې مطالب خپاره کړل چې په یو ډول یې د سولې هڅې بابېزه ګڼلې. په داسې حساس وخت کې په رسنیو کې د داسې مطالبو خپرېدل ښيي چې جګړه غوښتونکي جهتونه هم امریکایي سیاست کې فعال دي.

**درېیم-** افغانان تر بل هر چا سولې ته اړتیا لري؛ ځکه د روانې جګړې قربانیان افغانان دي. نو کله چې بهرني لوري د خبرو لپاره ګام پورته کوي، پکار نه ده چې افغان لوری یې د ودرولو ګواښ وکړي. پکار ده چې افغانان د ټرمپ د ادارې له دغه فرصته استفاده وکړي او امریکایان ډاډه کړي چې ستاسو حضور تاسو ته سرخوږي جوړوي؛ خو ستاسو وتل به تاسو ته هېڅ ډول ګواښ رامنځته نه کړي.

**څلورم-** د خبرو اترو روان بهیر د اوږدو هڅو او منډو ترړو پایله ده چې مختلفو نړیوالو جهتونو په کې رول لوبولی دی. په دومره پراخه کچه له نړیوال ملاتړه برخمنې خبرې باید په اسانه له ګواښ سره مخ نه شي. معمولاً په نړیوالو اړیکو کې د دولتونو یا جهتونو ترمنځ د خبرو لړۍ هغه وخت پرې کېږي چې یو لوری یو ستر تخلف وکړي.

د دغو ټکو په پام کې نیولو سره پکار دي چې له شته فرصته ګټه پورته شي. سیاست د فرصتونو د مدیریت لوبه ده. خبرې کول الزاماً په دې معنا نه دي چې ګواکې دواړه لوري «رښتیني» دي. په ډیپلوماسۍ کې د «رښتینوالي» هیله مناسبه نه ده. د ډیپلوماسۍ یو تعریف له سوله‌ییزو لارو خپلو اهدافو ته رسېدل یاد شوی. د خبرو د دوام معنا دا ده چې دواړه لوري فکر کوي چې خپلو موخو ته د تفاهم له لارې رسېدای شي؛ نو لازمه نه ده چې د جګړې پر ماشین خپلې سرچینې ولګوي. په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات په پار!

## عبدالله: د سولې خبرو لپاره ولسمشریزې ټاکنې نه ځنډېږي

د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله وایي، د سولې خبرې او د ولسمشریزو ټاکنو پروګرامونه هر یو پر خپل ځای اهمیت لري. د سولې خبرې به روانې وي او ټاکنې به پر ټاکلې نېټه کېږي.

عبدالله د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي د پیل شوي ۱۶ ورځني کمپاین په وروستۍ ورځ یوې غونډې ته وویل، افغان حکومت پر ټاکلي وخت د ټاکنو د تر سره کېدو په اړه خپل موقف اعلان کړی دی.

هغه زیاته کړه: «د افغانستان د خلکو غوښتنه هم دا ده. د انتخاباتو پروسه چې د نظام پایښت ته مشروعیت ورکوي، باید ځنډ پکې را نه شي.»

اجرایه رییس وویل، د افغانستان د اهدافو د اصلي کرښو او د سولې د اعلان شوي نقشې له مخې د افغانستان د خلکو د لاسته راوړنو ساتل، په هېواد کې د سولې او ثبات په معنا دي.

عبدالله دا څرګندونې داسې مهال کوي چې تر دې وړاندې د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډېدو په اړه راپورونه خپاره شوي وو. دا په داسې حال کې ده چې له وسله والو طالبانو سره د خبرو اترو په موخه د حکومت له خوا ټاکل شوي مرکچي پلاوي هم ورمه شپه په ارګ له افغان چارواکو سره لومړنۍ کاري غونډه وکړه. ولسمشر په دې غونډه کې ویلي چې د



سولې د مذاکراتو په اړه وړاندې شوی لارښود له خلکو سره د اته میاشتنیو مشورو په پایله کې رامنځته شوی دی. ولسمشر غني په جنیوا کنفرانس کې له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د سلام رحیمي په مشرۍ د ۱۲ کسیز مرکچي پلاوي د جوړېدو خبر ورکړ.

ارګ وایي، په دې غونډه کې د سولې د عالي شورا د دارالانشا نوي رییس او د سولې د سیمه ییزې اجماع په چارو کې د ولسمشر ځانګړي استازي عمر داودزي هم ګډون کړی و.

داودزي د پخواني ولسمشر حامد کرزي د دفتر رییس، په پاکستان کې د افغان سفیر او تر هغه وروسته د نوموړي په حکومت کې د کورنیو چارو د وزیر په توګه دندې ترسره کړې دي.

نوموړی د سولې شورا د دارالانشا د رییس په توګه تر ټاکل کېدو وړاندې د حراست او ثبات شورا له مهمو غړو څخه و.

## داودزي: د سولې عالي شورا به له اوسني وضعیت سره سمه عیاره کړم

د سولې عالي شورا د دارالانشا نوی رییس عمر داودزي وایي، د زلمي خلیلزاد د هڅو له پیل سره په وضعیت کې تغیر راغلی او اړتیا ده چې د سولې په اړه نوې تګلاره جوړه شي.

داودزي چې تازه د ولسمشر اشرف غني له خوا د سولې په اړه د سیمه ییزې اجماع د ځانګړي استازي او د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس ټاکل شوی، ویلي چې دغه شورا به له اوسني وضعیت سره سمه جوړه کړي.

نوموړي له ازادي راډیو سره په مرکه کې ویلي چې د سولې په اړه یوې نوې تګلارې ته اړتیا ده چې د ده په وینا، د پخوانیو طرحو تر ارزولو وروسته به یې جوړه کړي.

داودزي په دې اړه ویلي: «یوه پوره نوې ستراتېژي به جوړوو. پخوانۍ تګلارې، پلانونه او طرحې به ګورو او له دغه نوي حالت سره به یې عیاروو. اوس د خلیلزاد صاحب د ماموریت نه بعد، یو نوی حالت ایجاد شوی؛ هم د منطقې په روابطو کې، هم د سولې په اړه نوي فرصتونه رامنځته شوي. د سولې شورا به هم له دغه نوي حالت سره عیاروو.»

هغه ویلي، تګلاره به په ګډه جوړوي چې د سولې خبرې، د سولې راوستل او سولې تل پاتې کېدل به پکې شامل وي. داودزي تر دې مخکې په قطر کې د پګواش موسسې په چوکاټ کې له طالبانو سره لیدلي او وایي چې پکار ده دا ډله هم انعطاف ښکاره کړي.

طالبانو یوه میاشت مخکې د سولې شورا له ځینو استازو سره په مسکو کې د روسیې په کوربه‌توب ولیدل، خو ویې ویل چې اوس د سولې خبرې یوازې له امریکایانو سره کوي. امریکا هم خپل واک افغاني‌الاصله امریکایي سیاستوال زلمي خلیلزاد ته ورکړی چې اوسمهال په یوه اوږده سفر د سیمې هېوادونو ته وتلی دی.

د سولې شورا د دارالانشا نوی رییس د خلیلزاد هڅې مثبتې ارزوي او وایي، د سولې شریکې هڅې به هرومرو یوه نتیجه ورکړي.

نوموړي زیاته کړه: «دا علایم شته چې په‌خیر له انتخاباتو مخکې سولې ته ورسېږو. د امریکا د دولت خاص استازي په توګه خلیلزاد صاحب په سیمه کې خاص اثر رسوخ لري، سابقه لري دلته. کارونه یې ښه روان دي، په ګډه یعنې د هغه کار او د افغان دولت کار او د خلکو هڅې او د طالبانو انعطاف پذیري به موږ د مشکل د حل یوه سرحد ته ورسوي.» د افغان حکومت له لوري سولې ته د رسېدو د هڅو په دوام د سولې د خبرو نوي جوړ شوي مرکچي پلاوي هم د یکشنبې په شپه په ارګ کې له افغان ولسمشر اشرف غني سره لیدلي چې ولسمشر د سولې د خبرو لارښوونه ورته کړې. سیمې ته د خلیلزاد سفر، د افغان حکومت له لوري د سولې هڅې او د رپوټونو په اساس راتلونکې اونۍ کابل ته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سفر، هغه څه دي چې د سولې روانې هڅې لا پسې چټکې ښکاروي.

## پارلماني ټاکنې څه ډول ترسره شوې،

# ستونزه چېرې ده او حل څه دی؟

لیکنه: نعمت الله محمودي

د ولسي جرگې د اوولسمې تقنیني دورې ټاکنې چې په ۳۲ ولایتونو کې د روان لمریز کال د تلې په ۲۸مه او ۲۹مه تر سره شوې، تاکل شوې وه چې د ټاکنو کمېسیون لومړنۍ پایلې د لړم میاشتې په ۲۰مه اعلان کړې وای، خو له بده مرغه داسې ونشول او تر اوسه یې چې د لیندۍ ۲۰مه ده، د ۲۳ ولایتونو لومړنۍ پایلې داسې مهال اعلان کړې دي چې له نادریو ډکې او د ټاکنیزو شکایتونو پر مېز یې د ترسره شویو درغلیو او گډوډیو په اړه لسگونه زره شکایتونه پراته دي.

د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون کاواکه دریځ

تېره پنجشنبه د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له خوا د کابل ولایت د پارلماني ټاکنو د رایو ابطال، د ټاکنو کمېسیون له لوري د یادې پرېکړې رد او بې اعتباره کول او ورپسې د حکومت په مشرۍ د دواړو کمېسیونونو روغه جوړه او په یاده پرېکړه له سره غور او بیا کتنه، هغه څه دي چې له یوې خوا یې د ټاکنو نیم بنده پروسه لا بې باوره او د ولس شک یې پر ټاکنو او د یادو کمېسیونونو پر کړنو او خپلواکۍ په یقین بدل کړ. ترڅنگ یې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د ترسره شوو او راتلونکو پرېکړو په هکله کاواکه او متزلزل کړ.

ستونزه چېرې ده؟

ستونزه تر ډېره د ټاکنو کمېسیون د رهبرۍ کمزورتیا، د خپلواکې ارادې نشتون او له محلي زورواکو سره د ډېرو ساحوي کارکوونکو معامله گیري ده چې له بده مرغه د زور او زر پرمټ له ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ ز کلونو را په دېخوا همدا لړۍ ادامه لري. مافیایي کړۍ په پوره قوت او جرئت سره دا چاره ترسره کوي، ټاکنیز محلونه او د ټاکنو کارکوونکي اخلي او د ټاکنو مسیر نامطلوب لوري ته بیایي.

په سړنیو پارلماني ټاکنو کې له پخوانیو هغو سره په توپیر د هېواد په ډېرى ولایتونو کې پراخ تقلب د پرېمانه تذکرو په وېش؛ د احصایې له محلي دفترونو پیل، د ټاکنو کمېسیون له ساحوي دفترونو سره د سټېکرونو د لگولو پر همغږۍ او د ټاکنو په ورځ بیا د مېشتو امنیتي ځواکونو او ټاکنو کمېسیون د ساحوي همکارانو پر مټ تر سره شو.

په کابل کې ولې د بایومټریک ترڅنگ نورې لارې ومنل شوې؟

په داسې حال کې چې د بایومټریک ماشینونو پر پېرلو په میلیونونو ډالر ولگېدل، خو ظالمانه او حیرانوونکې وه چې د ټاکنو کمېسیون یوازې په کابل کې ونه توانېد او یا یې ونه غوښتل چې دغه وسایل وکاروي او لږ تر لږه په کابل کې د ټاکنو شفافیت تضمین کړي.

کابل ښار او کابل ولایت د افغانستان د ټولو ولایتونو په پرتله امن او د ټاکنو په ورځ د ټاکنو محلونو ته هر ډول لاسرسی ممکن و. ښکاره ده چې دلته له بایومټریک پرته د رایې کارولو ته اجازه ورکول او منل په داسې حال کې چې ټاکنې دویمې ورځې ته هم وغځول شوې، له زر او زور سره له معاملې پرته بله هېڅ توجیه نه لري. که وي، نو د دغه کمېسیون بې کفایتي ده چې دا جرم بیا له گناه بدتر دی.

د کابل د رایو په اړه د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته څه په کار وو؟

د ټاکنو په ورځ د ولس سترټیاوو او د خپلو رایو د کارولو په لاره کې د هغوی سرښندنو ته د درناوي په پار ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته په کار وه، څو واقعي او بایومټریک شوې رایې له نورو هغو بېلې او همدا یې د خپلې پرېکړې معیار گرځولی وای. دا به له یوې خوا ولسواکۍ ته درناوی و او له بل پلوه به د معامله گرو او مافیایي کړیو پر مخ درنه څپېړه وه او ترڅنگ به یې د دغه کمېسیون د خپلواکۍ او حقانیت لپاره په اوس او راتلونکي کې ستر شهکار و چې له بده مرغه داسې یې ونشوای کړای او په بېړه یې پرېکړه وکړه.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون او په ټوله کې دولت ته څه په کار دي؟

که د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون غواړي چې د ولس باور اعاده او د معامله گرو معاملې افشا کړي، نو په کابل او کابل ته ورته ولایتونو کې دې یوازې غیر بایومټریک رایې باطلې کړي.

دولت دې هم په راتلونکي کې د ټاکنو پروسه الکترونیکي کړي، د پارلماني او ولایتي شوراگانو اوسنی سیستم دې متناسبې نمایندگۍ ته تغیر کړي او د ټاکنو کمېسیون د غړو او لږ تر لږه د یاد کمېسیون پر محلي تشکیلاتو او هلته په ترسره شوو میراثي استخدامونو دې له سره غور وکړي. له دې پرته د دغه حالت دوام د جمهوري ریاست ټاکنې د راتلونکي کال د وري په ۳۱مه ناممکنې کوي او که تر سره هم شي، بحران زېږوونکې به وي.

# د عمر داودزي له ټاکل کېدو وروسته د سولې شورا مشر کریم خلیلي استعفا کوي




د سولې عالي شورا په ترکیب او کاري ساحه کې تغییرات، چې ولسمشر غني یې د جنیوا په کنفرانس کې هم یادونه کړې وه، د دې شورا د رییس کریم خلیلي صلاحیتونه او د سولې په بهیر کې رول او مشارکت نور هم محدودوي او ښایي نوموړی له خپلې دندې استعفا وکړي.

ولسمشر غني په یوه تازه اقدام کې د کورنیو چارو پخوانی وزیر عمر داودزی د سولې عالي شورا د دارالانشا د نوي رییس په توگه ټاکلی او په پام کې ده چې د دې شورا کاري ساحه هم د سولې په بهیر کې د گډون پرځای، عامه پوهاوي ته راټیټه شي.

د سیاسي چارو شنونکی محمد زبیر شفیقي په دې اړه وایي:« زه فکر کوم چې استاد خلیلي پخوا هم په خپل کار کې ډېر خوشاله نه و، د ولسمشر سلاکار او مهم څوک چې پخوا د دار الانشاء د رییس په حیث انتخاب شوی و، هغه هم پخوا د ده صلاحیتونه محدود کړي وو او اوس چې داودزی هم انتخاب شوی، زه فکر کوم چې خلیلي به نور هم ځان منزوي احساس کړي.»

د سولې عالي شورا د رییس او ولسمشر غني ترمنځ د سولې په خبرو اترو کې د دې شورا له منزوي کېدو وروسته اړیکې ترینگلې شوې او د شورا مشرتابه په دې باور دی چې د دوی د چارو د ټکنې کېدو او له طالبانو سره په خبرو کې د نه پرمختگ یو عامل خپله ولسمشر غني دی.

د کریم خلیلي په اړه ویل کېږي چې د سولې شورا د دارالانشا د پخواني رییس اکرم خپلواک په وخت کې هم له دې امله ناراضه و چې ولسمشر له ټولو قضایاوو گوښه ساتلی و، نو اوس د دې شورا د صلاحیتونو په محدودېدو او د داودزي په ټاکل کېدو سره به نوموړی له خپلې دندې استعفا وکړي.


هڅه مو وکړه چې په دې اړه د ښاغلي خلیلي د دفتر نظر هم واخلو، خو بریالي نه شوو.

د سولې عالي شورا په ترکیب کې د نویو تغییراتو په اړه ویل کېږي چې ولسمشر غني غواړي له دې شورا نه په راتلونکو ټاکنو کې د ځان په گټه کار واخلي.

د سولې په شورا کې د نویو تغییراتو په اړه دا څرگندونې داسې مهال دي چې ولسمشر غني له طالبانو سره د خبرو اترو او راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې په پام کې لري د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو په مشرۍ کې هم تغییرات راولي.

## د ستاکهلم د سولې د څېړنې نړیوال انستېټیوټ:

# امریکا د وسلو د پلور په برخه کې د نړۍ په کچه تر ټولو مخکښ هېواد دی



د سولې په اړه معتبره نړیواله څېړونکې اداره وایي، امریکا د وسلو د پلورلو په برخه کې د نړۍ په کچه تر ټولو مخکښ هېواد دی.

د ستاکهلم د سولې د څېړنې نړیوال انستېټیوټ د ډسمبر په ۱۰مه خپل کلنی راپور خپور کړ چې وایي، په ۲۰۱۷ ز کال کې د امریکایي کمپنیو لهخوا د وسلو او پوځي تجهیزاتو پلور دوه سلنه لوړ شوی او ټوله بیه یې ۲۲۲،۶ میلیاردو ډالرو ته رسېږي.

په دغه راپور کې تر امریکا وروسته روسیه د وسلو دویم لوی تولیدوونکی هېواد بلل شوی چې تر برېتانیا مخکې شوې ده.

راپور زیاتوي، په ۲۰۱۷ ز کال کې روسي کمپنیو د ۲۰۱٦ ز کال په پرتله ۸،۵ سلنه ډېرې وسلې پلورلې دي.

د سولې په اړه دې نړیوالې تحقیقاتي ادارې د نړۍ په کچه د وسلو د سلو مخکښو تولیدوونکو شرکتونو لهخوا د وسلو د پلورلو پر اساس دغه راپور خپور کړی دی.

د دوی پایلې په ډاگه کوي چې په دغو سلو مخکښو شرکتونو کې ۴۲ یې د امریکا او ۱۰ یې د روسیې دي.

د دغه انستېټیوټ د وسلو او پوځي مصارفو د پروگرام لوړپوړي څېړونکي سایمن ویزمن ویلي، روسي کمپنیو له ۲۰۱۱ ز کال راهیسې د خپلو وسلو د پلور په برخه کې ډېر پرمختگ کړی دی.

نوموړي زیاتوي، دغه پرمختگ له هغه اقدام سره هممهاله شوی چې روسیې د خپلو پوځي ځواکونو د عصري کېدو په موخه د پوځي تدارکاتو لگښتونه ډېر کړل.

دغه نوی راپور وایي، د لومړي ځل لپاره د روسیې دولتي کمپنۍ الماز انتې په نړیواله سطحه د وسلو د پلور په برخه کې د دغه هېواد په لسو مخکښو کمپنیو کې شامله شوې ده.

دا اداره زیاتوي، برېتانیا د لوېدیځې اروپا په سطحه د وسلو لوی پلورونکی هېواد دی او په سلو مخکښو کمپنیو کې ۷ شرکتونه لري.

په دغه راپور کې همدا راز د ترکیې له خوا د وسلو د چټک پرمختگ یادونه هم شوې او وایي چې دا پرمختگ ښیي چې ترکیه د خپلو وسلو د تولید پراختیا ته لېواله ده، څو وکولی شي د وسلو ډېرېدونکې تقاضا پوره کړي او په دې برخه کې یې پر بهرنیو کمپنیو اتکا راکمه شي.

په ټوله کې دغه راپور وایي، په ۲۰۱۷ ز کال کې په نړۍ کې د وسلو سلو مخکښو تولیدوونکو کمپنیو د ۳۹۸،۲ میلیاردو ډالرو په ارزښت وسلې پلورلې دي چې دا تر ۲۰۱٦ ز کال ۲،۵ سلنه ډېروالی ښیي.

په دې څېړنه کې د چین د وسلو تولیدوونکې کمپنۍ نه وې شاملې. راپور زیاتوي چې د هغوی په اړه معلومات موثق نه وو.

د سولې په اړه د ستاکهلم نړیواله تحقیقاتي اداره په ۱۹٦٦ ز کال کې جوړه شوې او خپل ځان یوه داسې خپلواکه اداره بولي چې د شخړو، وسلو، د وسلو د کنټرول او بې وسلې کولو په اړه صادقانه پلټنې کوي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړينې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

● لیکوال: جان مکسوېل
● ژباړن: میراحمد یاد

### یوویشتمه ځانګړنه
**ارمان:**



**ټول آسونه ټوپونه وهي**
والت دیسني د شلمې پېړۍ ستر خیال پرداز و. ده په لومړي ځل غږ لرونکی کارتون جوړ کړ، په لومړي ځل یې رنګه کارتون جوړ کړ او لومړنی خوځنده فلم یې جوړ کړ، ده به هرومرو یو ارمان درلود. خو د والت دیسني تر ټولو ستر کار د دیسني لنډ او والت دسنی نړۍ جوړول وو. خو د دغه ارمان څرک یې په داسې ځای کې ولید چې هېڅ تمه یې نه وه.
د دیسني دوه وړې لوڼې وې او هره شنبه به یې سهار په لاس انجلس کې پارک ته د چکر لپاره بوتللې. د لورګانو یې دغه پارک ډېر خوښېده او خپله د ده هم خوښېده. دا پارک نه و، سم د ماشومانو جنت و. فضا یې ډېره ښایسته وه، د جوارو پولیو او خوږو مالوچو بوی به پکې خپور و. سوداګریزې خبرتیاوې به پکې راځړېدلې وې او ماشومان چې به په ټال او چرخ و فلک کې سپاره وو چیغې به یې وهلې. دغو شیانو په ماشومانو کې له پارک سره مینه او علاقه پیدا کوله.
د دیسني دا چرخ و فلک ډېر خوښ شو، ده چې ولیدل ګوري چې ډېر اسونه دي او له موسیقي سره یو ځای روان دي. خو دا چې ورنږدې شو، چرخ و فلک ودرېده او ګوري چې د ده سترګې تېروتې دي. ګوري چې نور اسونه یوازې رنګونه دي. یوازې له کرښې بهر اسونه ښکته پورته کېږي او نور ځای پرځای ولاړ دي.
له دې حالته دې کارتونیست یو الهام واخیست او یو ارمان یې پیدا کړ. ده په ذهن کې داسې یو پارک انځور کړ چې د انسان انځور پکې نه ورانېږي او لوی او واړه پکې ګرځېدی شي. دا ارمان یې د دیسني لنډ پارک شو.
**دې ته تم شئ**
رهبر ته ارمان هر څه دي او دا اړینه ځانګړنه ده، ولې؟ ځکه رهبر ته همدا ارمان لارښوونه کوي، هدف یې ورته ټاکي، انګېزه پکې پیدا کوي او رهبر مخ پر وړاندې حرکت کوي. د رهبر ارمان، پیروانو ته لارښوونه ده. تاسې داسې رهبر راوښیئ چې یو خوب او ارمان نه لري او زه به درته ثابته کړم چې هغه به پرمختګ نه وي کړی. داسې رهبران لکه د ګاڼۍ غوایان له ځانه تاوېږي.
د رهبر په ژوند کې د ارمان په ارزښت پوهېدو لپاره لاندې ټکو ته پام وکړئ:
۱) **ستاسې ارمان له تاسې پیلېږي.**
زه چې په زیاتره ورکشاپونو کې درس ورکوم، خلک راته وایي چې زمونږ ادارو ته یو ارمان وټاکئ، خو زه دا کار ځکه نشم کولای چې دا ستاسې کار دی، نه یې درته بل څوک کولای شي او نه یې ترې پوره کولای شئ. ستاسې لرلید باید له تاسې راووځي. والت دیسني ته لرلید ټاکل مهمه موضوع نه وه، هغه پوهېده چې لوړې کچې ته د رسېدو په لاره کې څه پېښېدی شي.
که تاسې داسې لرلید یا ارمان نه لرئ، نو ځانته ځیر شئ، خپلو طبیعي وړتیاوو او لېوالتیاوو ته پام وکړئ. که تاسې ځانته لرلید نشو ټاکلی. نو، نورو رهبرانو ته پام وکړئ، چې د کوم یوه لرلید یا ارمان ستاسو له حالت سره سم یا ورته نږدې دی، بیا کولای شئ چې له هغه سره شریک یا سیال شئ.
۲) **ارمان ستاسې له تاریخه وي**
دا له آسمانه نه راکوزېږي. د رهبر پخوانی تاریخچه یې هدف او ارمان روښانوي. څوک چې په دې پسې روان وي او دی ورسره اوسېدلی وي، د هغوی تاریخ هم پکې ونډه لري. دې موضوع د دیسني په اړه صدق کاوه، خو د هر رهبر په اړه صدق کوي. له بېلابېلو رهبرانو سره خبرې وکړئ، وبه ګورئ چې د هغوی د ژوند بېلابېلو پېښو یې د دې ارمان په جوړلو کې مرسته کړې ده.
۳) **ارمان د نورو اړتیاوې پوره کوي**
ارمان پراخې اغېزې لري او هېڅوک یې په یوازې ځان نشي پوره کولای. ریښتینی ارمان نورو خلکو ته ارزښت ورکوي. که چېرې تاسې داسې ارمان لرئ چې د نورو خلکو خدمت نه کوي، نو فکر کوم ډېر وړوکی ارمان مو پاللی دی.
٤) **ارمان ستاسې سرچینې راټولوي**
د ارمان یوه ګټه دا ده چې د مقناطیس کار کوي، خلک راټولوي او یووالی ورکوي. بله دا چې د خلکو د اړتیاوو پوره کولو لارې چارې ګوري. ارمان چې هر څومره لوی او پراخ وي، هومره به یې د بریا راجلبولو امکان زیات وي. ارمان چې هر څومره سخت وي هومره یې خلک د پوره کولو لپاره ډېرې هڅې کوي. د پولاریوډ بنسټګر (ادوین لند) وایي: (لومړی خلکو ته دا زده کړئ چې دا ارمان ډېر مهم او پوره کېدو ته نږدې دی، وبه ګورئ چې بریاوې درته راټولې شي.)

**دوام لري...**

# عمر دراز مروت

حکمت ارین



عمر دراز مروت د پښتو ژبې یو پیاوړی شاعر و چې په ۱۹۵۸ ز کال کې یې د خیبر پښتونخوا په جنوب کې د لکي مروت په شاتوره تختيخېل سیمه کې نړۍ ته سترګې وغړولې او د ژوند تر وروستیو پورې په همدې سیمه کې اوسېده. مروت رسمي زده کړې نه وې کړې، خو په پښتو نظم کې د داسې یو سبک څښتن و چې د پښتو ادب اسمان به تر ډېره رڼا وساتي. نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې په جوماتي کې پیل کړې، خو د وخت او حالاتو ستونزو ورته اجازه ورنه کړه چې خپلې زده کړې بشپړې کړي. نوموړي ته په کم عمر کې ډېر مسوولیتونه وسپارل شول او د ژوند تر اخره یې په خپله سیمه کې استوګنه غوره کړه. هغه یوازې دومره کولی شوای چې لیک او لوست وکړي. مروت په کمو زده کړو پښتو ژبې ته نه هېرېدونکي او تلپاتې میراثونه پرېښي دي.
خدای بښلی مروت نه یوازې دا چې یو لیکوال او شاعر و، بلکې په خپله سیمه کې یې له خپلو ټولو مجبوریتونو او تنګ لاسیو سره سره پښتو ژبې ته خدمت پر ځان فرض بللی و. هغه د شیخ بدین په نامه یوه مهالنۍ درلوده او د برې پښتونخوا سربېره په مورنۍ خاوره کې یې هم د ډېرو مینه والو تر لاسونو رسېده او ډېر مینه وال یې درلودل.
نوموړي دغه راز په خپله سیمه کې یوه ادبي ټولنه هم جوړه کړې وه چې ۱۰۷ شاعران او لیکوالان به ورته راتلل او له همدې ځایه به یې د پښتو ژبې خدمت کاوه. عمر دراز له دې ټولنې هېڅ لاسته نه راوړل، خو ستره لاسته راوړنه یې دا وه چې په خپله سیمه کې یې پټ استعدادونه را برسېره کړل چې دا به پر ټولو پښتنو د خدای بښلي یو احسان وي او هېڅ پښتون به د نوموړي پر دغو خدمتونو سترګې پټې نه کړي.
د پښتونخوا په مردان کې د پښتو ژبې لیکوال، څېړونکي او د عمر دراز مروت نږدې ملګري میا وکیل شاه فقیرخېل د نوموړي له مرګ وروسته له ازادي راډیو سره په مرکه کې نوموړی د رنګین فکر څښتن وباله او د هغه په اړه یې وویل: «عمر دراز مروت د یوه ډېر رنګین فکر څښتن، د پښتو ادب نوموړی او پیاوړی شاعر او ملنګ طبعیته انسان و، خو خپل ژوند یې له پښتو ادب نه ځار کړی و. پښتو ادب ته یې ډېر څه ورکړي دي. له خپلې غریبۍ سره سره هغه هرې کوڅې او هر ځای ته تللی او خصوصاً پر لر او بر پښتنو باندې ډېر مین و. لر او بر پښتنو هم هغه ته ډېر عزت ورکړی. د هغه چې هر څومره تعریف وکړای شي، هغه کم دی.»
فقیر خېل وویل، سره له دې چې نوموړی له ډېرو اقتصادي او مالي ستونزو سره مخ و، خو له دې ټولو سره سره یې بیا هم پښتو ژبو ته ډېر خدمتونه وکړل. د ده په وینا، عمر دراز مروت په پښتو ژبه کې تر سلو ډېر کتابونه چاپ کړي چې دا له پښتو ژبې سره د نوموړي د مینې او نېک احساس ښکاره ثبوت دی.
هغه په خپله خوږه ژبه او نېکو اخلاقو د ډېرو خلکو په زړونو کې داسې ځای موندلی و چې کله یې ملګري او نږدې کسان په اړه درته غږېږي، نو زړه دې وشي چې ای کاش! دا خبرې ما د ده پر ژوند له خلکو اورېدلې وای او ښه ډېر نازول شوی وای.
د پښتو ژبې دا هستي او نازولی شاعر وروسته د هغه له مرګه ډېر محبوب شو چې دا دې ډېرو وګړو په باور بد فرهنګ دی. موږ د خپل وطن پر هستیو او سترو انسانانو هغه وخت خبرېږو چې دوی له دنیا سره مخه ښه وکړي چې دا مناسبه نه ده.
د پښتو ژبې بل پیاوړی شاعر او لیکوال پیرمحمد کاروان د نوموړي د ژوند په اړه وایي: « عمر دراز مروت زموږ له نږدې ملګرو څخه و، دی د بنو په مروتو کې اوسېدلو، سبقونه یې ډېر نه وو ویلي، خو خدای تعالی یو ډېر شاعرانه فطرت ورکړی و. د مهاجرت په وختونو کې به چې کله پېښور ته راتلو، نو د افغان لیکوالو او شاعرانو سره به یې هم ناسته پاسته درلوده او شعرونه به یې ویل. د نوموړي شاعري ډېره خوږه وه، داسې شاعري یې وه لکه د خاطر افریدي، د ده شاعري، نوم او خوږې خاطرې به همېشه په پښتو ادب کې یاد وي. مروت به د ننګرهار، لغمان او خوست په مشاعرو کې هم ګډون کاوه، خو له خوست سره یې ځانګړې مینه درلوده.»
د کاروان په خبره، نوموړی د ډېر غربت په حالت کې له دې فاني دنیا څخه لاړ چې حتی د مرګ په بستر هم ورسره د مرستې څوک نه و. نوموړی لر او بر پښتانه له نوموړي سره د نه همکارۍ له کبله ګرم ګڼي.
عمر دراز مروت ومړ او هغه هم په داسې حال کې چې په روغتون کې یې د تداوۍ لپاره پیسې د کرښې له دې غاړې ټولې شوې. هغه هستي چې موږ یې نن پر مرګ سترګې سرې کړې دي، په داسې حال کې د مرګ بدرنګې غېږې ته لاړ چې پر ټولنیزو رسنیو د هغه خپاره شوي عکسونه د هر انسان له سترګو اوښکې بهوي.
هغه په پېښور کې په داسې حال کې د روغتون پر بستر پروت و چې هېڅ حکومتي ادارې یې د درملنې لپاره مرسته ونه کړه. نه یې چا حال ولید او نه هم چا د مرستې لاس ورکړ، خو د کرښې دې غاړې پښتنو لیکوالانو، شاعرانو او د شعر او ادب مینه والو یې د دانش خپرندویې ټولنې په مرسته د درملنې مسوولیت پر غاړه واخیست. دوی په خپل دې اقدام سره دا وښوده چې زموږ وینه نه بېلېدونکې ده او د کرښې دواړو غاړو ته پراته پښتانه په هر حال کې د یو بل مرستې ته چمتو دي.
عمر دراز مروت له ډېرې مودې راهیسې د وریېښې ناروغۍ له امله کړېده. د کرښې هغې غاړې ته پراته پښتانه او فرهنګیان او لیکوالان بیا د پېښور له چارواکو ګیله من دي. دوی وایي چې د هغه پوښتنه هېچا هم ونه کړه.
د مروت نږدې ملګری شاعر او لیکوال سلیم قرار د نوموړي مرګ د لر او بر پښتنو لپاره ستره ضایعه بولي او د پښتو ژبې او ادب لپاره د هغه کړې هڅې نه هېرېدونکې بولي. نوموړی یې په اړه وایي:« د عمر دراز مروت مرګ د لر او بر پښتنو لپاره ډېره د زیان خبره ده او ده چې پښتو ژبې او ادب ته کوم خدمتونه کړي، ډېره ګرانه ده چې بل څوک د نوموړي په څېر پښتو ته دومره خدمت وکړي».
مروت له ډېرې مودې راهیسې ناروغ و، خو په دې وروستیو کې یې ناروغي شدیده شوه چې له امله یې د پېښور په یوه روغتون کې د روان(۲۰۱۸ میلادي کال) د نومبر په ۳۰مه د جمعې ورځ مازدیګر په پېښور کې ومړ او مړی یې په خپل پلرني ټاټوبي شاتوره تختيخېل، لکي مروت سیمه کې خاورو ته وسپارل شو چې په جنازه کې یې پر لیکوالو او شاعرانو سربېره سلګونو کسانو برخه اخیستې وه.
د کرښې دواړو غاړو ته پرتو پرګنو او د خدای بښلي د شاعرۍ مینه والو د هغه پر مړینه ژوره خواشیني وښوده او د هغه مړینه یې پښتو ادب ته ستر زیان وباله.
دغه راز د افغانستان اوسني ولسمشر محمد اشرف غني او پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د نوموړي په مړینه خواشیني وښوده او د پښتو ادب په وده کې یې د هغه کړې هلې ځلې وستایلې.
د نوموړي د شاعرۍ مینه والو ته ښه زېری دا دی چې د دانش خپروندویې ټولنې مشر اسد دانش د مروت د کلیاتو د راټولولو او هېواد والو ته د کتاب په بڼه د چاپ ژمنه کړې چې دا یو نېک او پر ځای اقدام دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۵ |
| € | ۸۶,۳۰ |
| Rp. | ۵۴۳ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۶,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبی | 16:30 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د بریا په اړه اووه لوی دروغ چې باید باور پرې ونه کړئ

ژباړه: امان الله«حنیفي»

هرڅوک غواړي چې په خپل ژوند کې بريالي و اوسي، خو کېدای شي چې هغوی د خپلې خوښې وړ بریا سره یوځه واټن ولري. موږ ټول د بریا لپاره بېلابېل تعریفونه لرو، خو د بریا په اړه پر شته دروغو ټول باور کوو. دا دروغ ډېری بریا ته د رسېدو او دا چې بریا څه ده او موږ ته څه په لاس راکوي، په دې اړه ټولو ته رامخکې کېږي.

په دې مقاله کې مو له اوو هغو لویو دروغو سره اشنا کوو چې باید باور پرې ونه کړئ.

**۱-هرڅه له مخکې وېېږنئ**

د امریکا مشهور هنرمند جون بایز وايي: «که هر وخت د یوه څه په لټه کې یاست، نو خپلې خبرې او غوښتنې مو نورو ته هم وښایاست».

بریالي کسان له لومړیو پر هرڅه نه پوهېږي، هغوی نابغه ګان نه دي، یوازې یې هغه څه پیدا او زده کوي چې نه پرې پوهېږي.

په نننۍ ټکنالوژۍ کې معلوماتو ته د لاسرسي په اړه بهانې کول هېڅ د منلو وړ خبره نه ده. هرڅوک کولای شي د یوڅو ساده او اسانه کلېکونو په وهلو سره د خپلې خوښ وړ معلومات چې څومره یې زړه وي، پیداکړي.

ډېر بریالي کسان د تېروتنو په ترسره کولو بریا ته رسېدلي دي. هغوی له خپلو تېروتنو زده کړه کړې، هغوی نه له تېروتنې وېرېږي او نه هم د یو کار له کولو؛ حتی که په دې اړه تېروتنه هم کوي، خو سرته یې رسوي.

**۲- که امکانات نه لرئ، بدلون وکړئ**

د (نوم ورکو معتادانو انجمن) کتاب پر مخ لیکل شوي: «لېونتوب مانا دویم ځلي سرته رسول، څو ځلې یو کار کول، خو متفاوتې پایلې ترلاسه کول».

راځئ چې له همدې ځایه نور له ځان سره رښتیني او صادق و اوسو. د کار کولو او لټې ترمنځ ډېر نری حد دی. باید پوه شو چې څه وخت کار پیل کړو او څه وخت بدلون وکړو. د بریا هغه پوړ ته چې غواړی ورسېږی، تل باید د بدلون او نوښت په لټه کې وی.

هغه مقام چې نن یې لری، دا د هغه څه پایله ده کوم مو چې پرون سرته رسولي وو، خو که غواړی چې له دې هم لوړ پوړ ته پورته شی، باید پر نوي او متفاوته لاره ګام واخلئ. ځینې وخت یوازې د یوې درجې په اندازه تغیر یا بدلون وکړئ.

**۳- د بریا یو اړخ حقیقت دی**

امریکایي وتلی هنرمند بیانسه وايي: «هېڅکله مې داسې څوک نه دي لیدلي چې زما د کار په اړه یې له ما نه ډېره هڅه کړې وي».

د بریا په اړه تر ټولو مشهور دروغ چې موږ منلي، هغه د بدو پېښو پېښېدل دي. دغه دروغ بیا تصویري رسنیو رښتیا کړي دي. ډېر وخت موږ په یوه سریال یا یوه فېلم کې داسې یو څوک چې کلونه یې له پیسو او یو ښه کار یا دندې پرته تېر کړي دي او لا هم په همدغه حالت کې ژوند کوي، موږ ته جالب او داسې برېښي چې کېدای شي دا پېښه له موږ سره هم وشي، خو د ټولو بریالیو خلکو یو عادت دا دی چې هغوی پر خپل کار تمرکز زیاتوي او بالاخره خپل مهارتونه او وړتیاوې قوي کوي.

کله چې له بریالیو کسانو وپوښتی، نو دا به درته ووايي چې نننۍ ځای ته د رسېدو لپاره یې ډېر زحمت ایستلی او دغه ځای ته د رسېدو پر لاره یې ډېرې تېروتنې پېژندلي دي.

**۴- د بریا لپاره تېر وخت ته اړتیا نشته**

اپرا ونفري وايي: «کولای شی هرڅه ولری، خو ټول په یو وار نه».

هو، کولای شی هرڅه ولری، کولای شی ډېره ګټه وټه ولری، کولای شی د دنیا ټولو هېوادونو ته سفر وکړی، کولای شی ښه مېړه/ښځه او یا هم ښه مور/پلار و اوسی.

کېدای شي کاملاً روغ او د بدن ښکلا په لوبه کې هم اول و اوسی. کېدای شي د ځان لپاره مو یو خیریه بنسټ جوړ کړی او د ځینو کسانو مشکلات حل کړی.

دا هرڅه ترلاسه کولای شی، خو په یو وار نه.

رښتیا دا ده چې ځان ته معلومه کړی چې څه غواړی. دا ومنئ چې ژوند مو هېڅ وخت ستاسې د غوښتنو مطابق په یو وار نه برابرېږي. باید غور وکړئ او ځان ته روښانه کړی چې کومه یوه بریا اوس ستاسې لپاره ښه او ارزښت لرونکې ده.

همدا ډول چې د ژوند هرې برخې ته فکر وکړی، کېدای شي په هره برخه کې مو لومړیتوبونه تغیر وکړي، خو په یوه وخت د ژوند په ټولو چارو کې بریا یوازې او یوازې د نااميدۍ سبب کېږي.

**۵- بریا د دې لامل کېږي چې ټولې ستونزې مو حل شي**

د کار او دندې پیداکولو لارښود جیم ران وايي: «دا ارمان مه کوئ چې ای کاش ډېر څه مو درلودای، بلکې دا هیله وکړی چې خپله بختور او ښه واوسی. د ستونزو د کمېدو هیله مه کوئ، بلکې زیات مهارتونه زده کړی. له کمو ستونزو سره د مخ کېدو ارمان مه کوئ، بلکې د ځان د لا پیاوړي کولو هیله وکړی.»

بریالي کسان لږ ستونزې نه لري، بلکې هغوی د ځان او ستونزو د حل لپاره ښې کړنلارې او پلانونه لري. وړې ستونزې هم بریا ته د رسېدو مسیر دی.

ټول هغه کسان چې د بریا لوړو پوړو ته رسېدلي دي، دوی ټولو دا لاره وهلې ده. د بریالي کېدو لپاره باید دا لارې طی کړو. حتی له عادي کسانو لوړ مسایل. هو، هرڅومره چې بریا ته نږدې کېږی، هغومره به له غټو مسایلو سره مخ شی.

پردې اساس دا فکر مه کوئ چې بریا ته ورسېدی، نو ارام ژوند به ولری، بلکې ښه دا ده چې د مسایلو په اړه به ستاسې د برخورد کچه په ښه ډول لا پیاوړې شي.

**٦- کله چې بریالي شوی، خلک به مو ملګرتیا ته زړه ښه کړي**

امریکایي انځورګر مریلین مونر وايي: «بریا د دې لامل کېږي چې ډېر کسان له تاسې نه متنفر شي، خو دریغه چې داسې نه وی. بریا له دې چې د ګاونډیانو په سترګو کې مو کینه ووینی، ډېر لوړه او خوندوره ده.»

واقعیت دا دی چې بریا ته له رسېدو وروسته کېدای شي ډېر دوستان او یا هم ملګري له لاسه ورکړی، خو ښه خبره دا ده چې تاسې به د ځان په څېر نوي ملګري چې هغه هم ستاسې په شان بریالي وي، پیداکړی.

**۷- بریا د خوښۍ سبب کېږي**

وتلی امریکایي لیکوال زیګ زیګلا وايي: «پیسې د خوښۍ سبب نه کېږي، خو ټول غواړي چې دا یو ځل تجربه کړي».

پیسې کولای شي خوشالي درکړي، خو هغه به لنډمهاله وي، اوږدمهاله او رښتینې به هېڅ نه وي.

یوازې یوه لاره چې د بریا او خوښۍ لامل کېږي، هغه دا ده چې په هر حال شکر وباسئ، هغه که ښه دی او که بد. شکر ایستل یو انتخاب دی. بریالي کسان په هر حال شکر ایستونکي دي.

## ملګري ملتونه: د ملکي مرګ ژوبلې مسوول کسان ښایي له حساب سره مخ شي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی وايي، د افغان جګړې له ټولو ښکېلو اړخونو سره د ولسي وګړو د مرګ ژوبلې د کمولو لپاره پر خبرو بوخت دي.

تادامیچي یاماموتو له بي بي سي سره په خبرو کې ویلي، په ځمکنۍ جګړه او هوایي بریدونو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله ډېره ده او لا هم ډېرېږي.

نوموړی وايي، که په دې برخه کې د دوی مشورو او وړاندیزونو ته پام ونه شي، ښايي په راتلونکي کې له مسوولو کسانو سره حساب وشي. یوناما د تېرې سپټمبر په ۲۵مه هم په یوه رپوټ کې ویل چې د تېر کال د شپږو میاشتو په پرتله د روان ۲۰۱۸ میلادي کال په همدومره موده کې د هوایي بریدونو له امله ملکي مرګ ژوبله ۵۲ سلنه ډېره شوې ده.

یاماموتو وايي، له مجازاتو سره د معافیت پر وړاندې مبارزې او د بشري حقونو د قربانیانو د خسارو جبران ته باید لومړیتوب ورکړل شي. نوموړی وايي: «د بشري حقونو نقض ته حساب ورکونه د یوې ټولنې لازمي بنسټ جوړوي. له بشري حقونو څخه ساتنه د قوانینو پر پلي کولو ولاړ ده چې په دې صورت کې د زیان منونکو وګړو ساتنه کېږي.»

د یوناما مشر دا څرګندونې داسې مهال کوي چې تېره ورځ (د ډسمبر لسمه) د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې ۷۰ کلیزه وه. یوناما د دې ورځې په مناسبت رسنیو ته په استولې اعلامیه کې د جزا د نوي قانون د جوړولو او د ازادیو د بنسټیزولو په برخه کې د افغانستان د ژمنتیا هرکلی کړی، خو په اعلامیه کې د یاماموتو له خولې دا هم ویل شوي چې لا هم افغانستان د انساني حقونو په برخه کې ځینې ستونزې لري او لامل یې هم جګړه او ماتېدونکی امنیتي چاپېریال دی.

په اعلامیه کې راغلي: «ملګري ملتونه په زغرده وايي چې سوله، پخلاینه، حقیقت موندنه، حساب ورکونه او عدالت د افغانستان د راتلونکي لپاره خورا مهم دي. دغه ډول د افغانستان د پراخو ژمنو د پلي کېدو څخه ننګه کوي، څو د بشري حقونو پراختیا ته دوام ورکړي او خپل ملي خونديتوب سیسټم تقویه کړي او داډ ترلاسه کړي چې د جګړې ټولې خواوې د بشري حقونو مدافعینو سره کار کوي.»

په دې اعلامیه کې د سولې په خبرو کې د بشري حقونو د لاسته راوړنو په ساتلو ټینګار شوی او ویل شوي چې له دې بریاوو ساتګ د سولې بهیر ننګولی شي.

## د کار او ټولنیزو چارو وزارت: راتلونکی کال ۲۵۰۰ افغان کارګر عربي اماراتو ته استوو

د کار او ټولنیزو چارو وزیر فیض الله ذکي وايي، له متحده عربي اماراتو سره د شوې هوکړې له مخې ټاکل شوې چې د راتلونکي لمریز کال د ورې په میاشت کې ۲۵۰۰ افغان کارګر دغه هېواد ته د کار لپاره واستول شي.

نوموړي د کاري مهاجرت د پراختیا په څنډه کې ازادي راډیو ته ویل چې له سعودي عربستان سره هم خبرې روانې دي تر څو په دغه هېواد کې هم افغان کارګرو ته د کار کولو زمینه برابره کړي.

ذکي وویل: «لومړۍ جوپه به ډېره غټه نه وي، یعنې تر ۲۵۰۰ افغان کارګر به وي چې د حمل په میاشت کې به استول کېږي. دا پس له دېرشو کلونو یوه ډله افغان کارګر دي چې بهر ته استول کېږي، نو موږ به ډېره هڅه وکړو چې دا پروسه په ډېر منظم شکل پرمخ ولاړه شي، ځکه موږ غواړو چې وروسته لاره هواره شي او د دغه هوکړه لیک پر وړاندې چې کوم احتمالي خنډونه موجود دي، باید مخه یې ونیول شي.»

د کار او ټولنیزو چارو وزارت په داسې حال کې اماراتو ته د افغان کارګرو د لېږلو خبره کوي چې په افغانستان کې د وزګارو ځوانانو شمېر ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دی. نا امني، اداري فساد، د لازمو پالیسیو او د کاري اسانتیاوو نشتون په هېواد کې د بېکارۍ او بېوزلۍ د پراختیا مهم لاملونه ګڼل کېږي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، په هېواد کې د کار په شرایطو برابر ۱،۹ میلیونه کسان بېکاره دي، خو ذکي وايي، هڅه کوي چې د بېکارۍ کچه راټیټه کړي.

د افغان کارګرو له حقوقو ساتنه، کاري مهاجرت ته پراختیا ورکول او په بهر کې افغان کارګرو ته د کار زمینه برابرول، په بهر کې د افغان کډوالو مدیریت او کورنیو ته د کارګرو د پیسو د استولو تنظیمول، هغه څه دي چې د ذکي په وینا، د کاري مهاجرت په ستراتېژۍ کې ځای ورکړل شوی دی.

نوموړی وايي، له دې وړاندې به بهرنیو هېوادونو ته افغان کارګر د ګاونډیو هېوادونو په ځانګړي ډول د پاکستان په پاسپورټ تلل، خو د دې ستراتېژۍ له مخې به په افغاني پاسپورټ کار ته استول کېږي.

په ورته وخت کې د افغانستان د کارګرانو ملي ټولنه د دې ستراتېژۍ هرکلی کوي، خو وايي چې بهرنیو هېوادونو ته د کار لپاره د افغانانو د استولو په مسئله کې باید هغه چاته د لومړیتوب حق ورکړل شي چې پر کار پوه او بهرنۍ ژبه یې زده وي.

د دې ټولنې مشر معروف قادري وايي: «زموږ غوښتنه دا ده چې باید د کار او ټولنیزو چارو وزارت او نړیوالې ټولنې له لوري د مهارت د تثبیت یوه ګډه کمېټه جوړه شي، تر څو د افغان کارګرو مهارتونه وڅېږي او معلوم یې کړي چې څوک په کومه برخه کې مهارت لري. همدا شان باید وړاندې له وړاندې د کارګرو کاري مهارتونه لوړ کړي او کوم هېواد ته چې استول کېږي، باید د هغه هېواد ژبه ور زده کړل شي، تر څو د افغانستان ښه نماینده ګي وکړي.»

قادري وايي، هر کال د کار په شرایطو برابر ۴۰۰ زره افغان ځوانان د بېکارۍ په ډله ور زیاتېږي او له امله یې ۴۰ سلنه افغانان د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، خو حکومت په وار وار ژمنه کړې چې د بېکارۍ د کچې د کمولو لپاره یې هلې ځلې کړې او دا ستونزه د حکومت لومړیتوب دی.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري، جواد تیموري او امان الله حنیفي
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۷ د لیندی ۲۰مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۱مه | دویم کال | ۲۹۸یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ١٤ | ١٦ | ۱۳ | ۱۷ | ۱۳ |
| -٦ | ۱ | ۱ | ۱ | ٤ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰٦:٤٨ | ماسپښین ١٢:١٤ | مازیگر ٠٤:٠٤ | ماښام ٠٥:٤٠ | ماخوستن ٠٦:٥٥

## نړۍ




## عدم توافق روی کارشیوۀ مشخص؛ بازشماری آرای کابل هم‌چنان متوقف است



پس از آنکه کمیسیون شکایات انتخاباتی، روز پنج‌شنبۀ هفتۀ گذشته تمامی آرای انتخابات ولسی جرگه ولایت کابل را باطل اعلام کرد، روند بازشماری این آرا در کمیسیون مستقل انتخابات متوقف شد.

اکنون که شش روز از متوقف بودن روند بازشماری آرای ولایت کابل می‌گذرد، تاکنون کمیسیون‌های انتخاباتی روی کارشیوۀ مشخصی مبنی بر ادامه این روند، توافق نکرده‌اند.

پس از آنکه کمیسیون شکایات انتخاباتی آرای کابل را باطل اعلام کرد، کمیسیون مستقل انتخابات با آن مخالفت کرد. سرانجام مسؤلان این دو کمیسیون درنشستی به ریاست معاون دوم رئیس‌جمهور، توافق کردند که در تصمیم ابطال آرا بازنگری کنند.

اما، ظاهراً دیده می‌شود که تاکنون دو کمیسیون به توافقات نهایی نرسیده‌اند. مسؤلان کمیسیون شکایات انتخاباتی می‌گویند که کمیسیون انتخابات هنوزهم تمامی اطلاعات را در اختیار این کمیسیون قرار نداده است.

علی رضا روحانی، سخن‌گوی کمیسیون شکایات انتخاباتی در این باره گفت: «کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی به صراحت به کمیسیون انتخابات اعلام کرده است تا زمانی که شرایط برای تأمین شفافیتی که آنان به آن متعهد شده‌اند، فراهم نشود طبعاً ما نمی‌توانیم که تجدید نظر کنیم در فیصله خود.»

اما کمیسیون مستقل انتخابات، می‌گوید که کمیسیون شکایات انتخاباتی روند بازشماری آرای ولایت کابل را به گروگان گرفته است و ناظرانش را برای آغاز روند بازشماری آرا به این نهاد نمی‌فرستد.

عبدالعزیز ابراهیمی، معاون سخن‌گوی کمیسیون مستقل انتخابات اظهار داشت: «ما امیدواریم که کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی به متوقف بودن و گروگان‌گیری این پروسه ملی نقطه پایان بدهد».

اما، شماری از نامزدان معترض، بازنگری تصمیم برابطال آرای کابل را نتیجۀ فشارهای سیاسی می‌دانند.

## سعودي عربستان: د خاشقجي په وژنه تورن کسان ترکيې ته نه سپارو



د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر عادل الجبیر د ترکیې هغه غوښتنه رد کړې چې د جمال خاشقجي په وژنه تورن کسان دې دغه هېواد ته وسپاري.

الجبیر په ریاض کې د خلیج هېوادونو د همکارۍ شورا د ناستې په پای کې وویل، موږ خپل اتباع چاته د دې لپاره نه سپارو چې په نورو هېوادونو کې محاکمه شي.

نوموړي زیاته کړه: «د چا لهخوا د نیولو د حکم پر اساس موږ خپل اتباع نه مستردوو. زه باوري یم چې د ترکیې اساسي قانون د ترکي اتباعو استرداد منعه کړی. دا نو جالبه ده، یو هېواد چې د قانوني مراجعو لهخوا د معلوماتو د شریکولو له غوښتنې سره سره بیا هم له موږ سره معلومات نه شریکوي، د نیولو حکم ورکړي.»

دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان په وار وار له سعودي عربستانه غوښتي چې د جمال خاشقجي پر وژنه تورن کسان ترکیې ته وسپاري.

یوې ترکي محکمې د تېرې چهارشنبې په ورځ د استانبول د څارنوالانو د مشر په غوښتنه د سعودي عربستان د استخباراتو د پخواني مشر احمد الحصیري او د شاهي محکمې د پخواني سلاکار سعود القحطاني د نیولو امر ورکړ.

حصیري او قحطاني وروسته له هغه له دندو گوښه شول چې ریاض ومنله چې جمال خاشقجي په استانبول کې د سعودي کونسلگرۍ دننه وژل شوی.


ترکیه وایي، د سعودي عربستان د اجنټانو یوه پنځلس کسیزه ډله د خاشقجي د وژنې لپاره استانبول ته لېږل شوې وه، هغه وژنه چې د اردوغان په باور، امر یې د سعودي لوړپوړو حکومتي چارواکو ورکړی و.

اردوغان تېره اونۍ لاتینې امریکا ته په سفر کې له سعودي وغوښتل چې په دې اړه تورن کسان ترکیې ته وسپاري.

## چین د هواوې شرکت د مالي چارو د رییسې د نیول کېدو په غبرگون کې د امریکا سفیر احضار کړی

د چین د بهرنیو چارو وزارت د امریکا په امر د هواوې شرکت د مالي چارو د رییسې مېنگ وانژو د نیول کېدو په غبرگون په چین کې د امریکا سفیر تیري برنډسټډ احضار کړی.

د سینهوا خبري اژانس په حواله، د چین د بهرنیو چارو مرستیال وزیر لي یوچینگ د مېرمن مېنگ وانژو نیول کېدل یو بې باکانه اقدام وباله او غوښتنه یې وکړه چې د امریکا متحده ایالتونه دې د هغې د نیول کېدو حکم لغوه کړي، کنه پیکېنگ به یې پر وړاندې اقدامات وکړي. چینایي چارواکو تر دې مخکې په پیکېنگ کې د دې پېښې په تړاو د کاناډا سفیر هم احضار کړی و او په دې اړه



یې خبرداری ورکړی و. مېنگ وانژو ۴٦ کاله عمر لري او د هواوې شرکت د بنسټ ایښودونکي لور ده چې ۱۰ ورځې مخکې په کاناډا کې هغه مهال ونیول شوه چې په ونکوور هوایي ډگر کې له یوې الوتکې بلې ته پورته کېده. نوموړې د امریکا په غوښتنه پر ایران د لگول شویو بندیزونو د سرغړونې په تور نیول شوې ده.


امریکایي چارواکو پر هواوې چینایي شرکت تور پورې کړی چې په هانگ کانگ کې یې له یوه شرکته په استفادې پر ایران داسې وسایل خرڅ کړي چې پر دغه هېواد له لگول شویو بندیزونو سرغړونه گڼل کېږي.

د امریکایي چارواکو په خبره، مېرمن مېنگ او هواوې شرکت امریکایي بانکونه له ایران سره د تجارت په مسئله کې تېر ایستلي دي.

مېنگ وانژو په یوه لیک کې چې په کاناډا کې خپور شوی، ټینگار کړی چې دا بېگناه ده او امریکا ته د سپارل کېدو په صورت کې به د ځان دفاع وکړي.

## ژوند

## د قهوې له دغو گټو ځان خبر کړئ!



قهوه هغه څښونکې ماده ده چې ډېرې روغتیایي گټې لري او څېړونکي یې اوس هم د نورو گټو د موندلو پر څېړنه بوخت دي.

دغه راز قهوه د ځانگړو ځانگړتیاوو له امله کولی شي د ډېرو ناروغیو مخنیوی وکړي او انسان روغ وساتي. دلته مو د قهوه له لسو حیرانوونکو گټو سره اشنا کوو:

۱- د پوستکي او سینې د سرطان خطر کموي.

۲- د ذهن په ارامولو سره انسان له ذهني فشار څخه ژغوري.

۳- د پړسوب ضد خاصیت لري.

۴- ۵۰ سلنه د شکرې ناروغۍ خطر کموي.

۵- بدن ته د اړتیا وړ فایبر نومي مواد ورکوي.

٦- د الزایمر د ناروغۍ خطر له منځه وړي.


۷- د ویښتانو په بیا راختو کې مرسته کوي.

۸- د تېزابیت مخه نیسي او د بدن د پوستکي په روغتیا کې مرسته کوي.

۹- د پارکینسن (Parkinson) ناروغۍ چې د فلج یو خطرناک ډول دی، خطر کموي.

۱۰- په بدن کې د ځیگر د سیروز (Cirrhosis of the Liver) پر وړاندې مقاومت زیاتوي.

## ماشومان مو داسې وروزئ!



ماشومان په چاپېریال کې د گلونو په څېر دي. په کوم چاپېریال کې چې ماشومان نه وي، بې خونده، کرار او له خوښیو خالي ښکاري. اولاد د خدای پاک ستر نعمت دی. ماشوم دنیا ته له راتگ سره د سپین کاغذ په څېر وي؛ څه دې چې زړه غوښتل ورباندې لیکلی یې شي. د مور غېږه د ماشوم لپاره لومړنۍ مدرسه ده.

ماشومان ډېر څه له چاپېریال څخه زده کوي. تر هر چا لومړی مور او پلار دي د ماشومانو تربیې ته پاملرنه وکړي او دا پر مور او پلار فرض دنده هم گڼل کېږي.

د ماشومانو ښه تربیه ښې پایلې هم لري. د مور او پلار د نېکنامۍ سبب گرځي. د اولاد ښه تربیه د مور او پلار له مړینې وروسته جاریه صدقه ده او که خبره برعکس وي، نو د دې ټولنې په زیان تمامېږي. مور او پلار ته په کار دي چې تر هرڅه وړاندې د ماشوم ښې روزنې ته پام وکړي او هغوی ته د ښه تعلیم او تربیې زمینه برابره کړي. د ماشوم په تربیه کې دې له ماشوم سره ښې رویې، مینې او شفقت ته لومړیتوب ورکړل شي. پر ماشومانو ذهني فشار راوړل ماشومان له ذهني ناروغیو سره مخ کوي. له ماشومانو سره دې د هغوی له خوښې سره سمې لوبې وشي. لوبې او ساعت تېري د ماشومانو په ژوند مثبت اغېز کوي. د لوبو پر وخت ماشوم ډېر څه په عملي توگه زده کوي.